# ننواتي

د خطا د کیدو نه پس د پښیمانۍ نوم ته ننواتي وائي. ننواتي څخه مطلب دا چي د یوهٔ جرم او خطا نه پس مجرمآو و هغه مشران او ملا د جرم د منلو او و هر تاوان ته سر وړلو ته ننواتی وائي.

د جرم په تاوان کښي بیا مجرمان او د هغهٔ کورنۍ هر څه ورکوي کوم چي د هغوئ غوښتنه وي. او زیات خلک بیا مجرمآو د هغه کورنۍ معافوي.

# اشر

د خلکو په ګډه کار کول او هغه کار کښي د اجرت نه اخستلو نوم اشر دی. کله چي په کلي کښي د یو چا کار ډیر وي او تر وس ئې ووځي نو بیا دی د کلي په خلکو باندي د اشر ږغ کوي او هغه ئې له څه غوښتني ورسره په کار کښي مرسته کوي او د ورځو ورځو کار په یوه او یا دوو ورځو کښي ختموي. و دغو خلکو ته اشر باڼي وائي. اشر باڼو ته یوا ځي ښهٔ خواړهٔ ورکوي.